Share

Twittern

۲۰۱۲/۰۶/۲۸

پوهندوی آصف بهاند

# انځور، تخیل اوتخییل څه شی دي؟

دویمه برخه

**دتخیل او تخییل توپیرونه:**

**له انځوراو تخیل نه چې تیرشو، د تخییل بحث پیل کیږي. د تخییل د پیژندنې په برخه کې ترټولو د مخه ویل کیږي چې: تخییل لکه د انځور په څیر د شعربنسټ دی. که چیرې د تخییل دویي(لغت) کارونې په تاریخ پسې وګرځو، ریښه یې د ارسطو وختونوته رسیږي او لیدل کیږي چې هغه مهال په بله بڼه کارول شوی دی.**

**د اوسنیواسنادو او مدارکو په استناد، دتخییل ویی(لغت) ترټولو د مخه ارسطو په خپل مشهورکتاب «دشعرفن» یا « کتاب الشعر» کې کارولی دی. ارسطو، تخییل د «میمس» په بڼه کارولی دی، چې په پښتو، عربي او فارسي ژبوکې د محاکات یا تقلید په بڼه راوړل شوی دی. (د زیاتې څرګندتیا له پاره وګورئ! الف: کتاب الشعر، د مولوي محمد اسراییل پښتوژباړه،۱۵ مخ. ب: ارسطو، فن شعر، ترجمه عبدالحسن زرین کوب،ص ۲۶)**

**شفیعي کدکني وایي چې نوم وړي محاکات د مضموني ارتوالي له امله د اسلامي دورې د پوهانو په ژباړو او شرحوکې دغه نومونه، کله د میمس، کله د محاکات، کله د تشبیه او لړ لړ پرتخییل ژباړل شوی دی، چې د مخیل کلام جاج و رنه اخستل شوی دی.**

**د ارسطو د کتاب له ژباړې او شرحوڅخه په ډاګه څرګندیږي، هغه څه چې د محاکات په بڼه راوړل شوي دي، هماغه څه دي چې ځینې نورشارحان او فلاسفه یې د تخییل په بڼه کاروي.(صورخیا ل در شعرفارسي،۳۰مخ)**

**دغه راز د تخییل دویي د څرنګوالي په باب ډیرې څیړونکي سره په یوه نظر دي او وایي چې له محاکات څخه همدغه دتخییل جاج اخستل کیږي اوداتکې هلته ښه څرګندیدای شي چې د «کتاب الشعر» د ځینو ژباړونکو، شارحانواو پوهانو هغو نظریاتوته پام وشي چې تشبیه، استعاره او تخییل سره یوشی ګڼي. ځینې لا په دې ټینګار کوي چې د ارسطوپه رساله کې هرځای چې د محاکات ویی راغلی دی، له هغه څخه مطلب همدغه تخییل دی او دتخییل دویي مفهومي سیمه د محاکات او تشبیه له کلماتو څخه ارته ده. د ارسطو موخه له نوم وړي ویي څخه د شاعرد ذهن په پرده کې د طبیعت یا بهرنۍ نړۍ د انځور یوډول څرګندون او ځلون دی.**

**تخییل د شعرد رامنځ ته کولو او تخلیقولو په بهیرکې د انسان ایجادي تفکرجوړوي. له تخییل څخه د ځینو پوهانو موخه هماغه شی ده چې د کتاب الشعر پخوانیو او اوسنیو ژباړونکواو مفسرینوهغه د محاکات او تقلید په** بڼه تعبیر کړی دی، نو دلته دی چې ویلای شو:

په تخییل کې هرڅه ښه، خواږه او په زړه پوري دي. په فلسفي او منطقي متونوکې د محاکات، تقلید او تشبیه د وییونو په پرتله د تخییل ویي غوره ځای نیولی دی. پوهاند رحیم الهام عقیده لري چې تخییل د ماهیت له مخې د تفکیر یوډول دی او تفکیر په شعورکې د مطالعه کیدونکي شي د ځانګړنو او صفاتو تجریدول او دلادیرې پیژندنې له امله یې په ټاکلو ډلوکې ترکیبول دي. دغه ډول تفکیرته، مجرد یا منطقي تفکیر یا تعقیلي تفکیر وایي؛ نود تفکیر بنسټیزه پایه تجرید دی، او په خپله تجرید د انسان یومنطقي عمل او مغزي فعالیت دی، چې د څیزونو او پدیدو د یوې ډلې د مهمواو شریکوځانګړتیاوو پاکول، را ایستل او جلاکول دي او دهماغې ډلې دهر وګړي ټول څیرمه لاملونه او اړوندې ځانګرنې را اخلي. تفکیر په اصل کې له شعور او ژبې سره جوخت، دانساني کاربربنسټ باندې منځ ته راغی، د انسان په لومړنیو بشیرتیایي پړ یوکې د تفکیر تکیه پرمحسوساتو او غوره شیانوباندې وه، انسان دغه مهال د تفکیر دعملیو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په ترڅ کې خپل بصري ایماژونه، لکه احساسونه، ادراکونه او تصورونه، تجریدول او په نویو ډلوکې یې ترکیبول. وروسته یې بیا د تولید د بشپړتیا تراغیزې لاندې د ټاکلو او لیدل کیدونکو محسوساتو په تجرید او دمفرداتو په تعمیم لاس پورې کړ. په دې ډول یې لومړی په دې توګه دعامو تصورونو په ایجاد ولواو بیا د مفهومونو په تکوین باندې پیل وکړ ... تخییل هم د شعوري اروا پوهنیزې پروسې له بابته او د رامنځ ته کیدو دپړیو د بهیرد سپړلوله مخې، دماهیت له نظره تفکیردی ... ( د هجري یا د ،۶۷ ــ ۶۸ مخونه )

**له دې ټولوخبرو څخه دا پایله ترلاسه کیږي چې تخییل له اره د ناورته مفهومونو د یووالي څرګندوی دی. تخییل د شعرد رامنځ ته کولو او تخلیقولو په بهیرکې د انسان ایجادي تفکرجوړوي او هرکله چې له طبیعت څخه نوم وړي سره ورته او سره جلا جاجونه او شیان سره انډول او سمون وومومي او د انسان په ذهن کې د انځورونو په بڼه رامنځ ته کیږي او په پای کې د انسان په ذهني واقعیت باندې بدلیږي او دغه واقعیت د انځورونو په بڼه د ژبې په واسطه، د شعر په نامه یادیږي.**

**او اوس لړ د تخیل او تخییل ترمنځ د توپیرونوپه باب:**

**څنګه چې په مخکینیوبحثونوکې وویل شول دمحاکات،تقلید اوتشبیه دکلماتوپه پرتله دتخییل ویی غوره ځای نیولی دی،اوداموهم وویل چې تخییل دماهیت له مخې دغیرتعقیلي تفکیریوډول دی اوتفکیردځیرل کیدونکي شي دځانګړنواوصفاتوتجریدول اودلاپیژندنې له امله،په ټاکلوډلوکې ترکیبول دي.دغه راز تفکیردواقعي بهیرله مخې دمفهومونوساده راغونډول،ردیف کول یا په یوه لړکې سره پیل نه دي،بلکې دجاجونوترمنځ دټاکلواړیکو،سره تړلی سیستم دی،داسې اړیکې چې دمادي نړۍ اوعیني واقعیت انګازه ده.**

**په دې ډول هرهغه څه چې د تفکر په باب ویل کیږي، د تخیل په باب هم هماغسې کټل کیږي او هرهغه څه چې د تفکیر په باب ویل کیږي، د تخییل په هکله هماغسې کټل کیږي؛ یوازې په دې توپیر چې تخیل د « تفعل » پروزن اوتخییل د «تفییل» پروزن چې تخیل د نوم په مانا او تخییل د فعل په مانا کارول کیږي.**
دغه راز د تخییل په باب دا هم ویل کیږي چې هغه ترکیبي او جادویي خواب چې ورته مو د تخییل نوم ورکړی دی، د مخامخو یا توپیرلرونکو ځانګړنو په انډول کیدو یاسمون موندلوکې را څرګندیږي. له توپیرسره د ورته والي، له خاص سره دعام، له تصورسره د ګروهې، له استازي سره دفرد، له انډول کیدو او سمون موندلو څخه په زړو او آشنا شیانوکې د نویتوب او تاندوالي، له احساس څخه ترعاطفي، له زیاتره حالت څخه ترمعمول(نظم)، له زیاتره نظم څخه، له داسې همیشني او دایمي منضبط حکم چې له ژوریا توند اشغال او احساس سره مل وي او کله چې طبیعي له مصنوعي سره ګډوي او هم آهنګ کوي یې؛ نوهنر د طبیعت، وضع د شرایطو تابع او زموږ له پلوه د شاعر ستاینه زموږ د اشتیاق تابع ګرځوي.(د زیاتومعلوماتوله پاره وګورئ: دهجري یاد،۷۰ مخ)

که دتصوراو تصویر ترمنځ پوله ډیره نرۍ ده، نو د تخیل او تخییل ترمنځ هم ډیرنرۍ تارموجود دی. د تصور او تصویرد توپیرپه برخه کې باید وویل شي چې لومړی د یوڅه په باب ښه تصورکول دي، او بیا تصویر جوړیږي. شاعر لومړی د یوڅه په باب ښه تصورکوي، بیا له خپلو شعري تجربو او کلماتوڅخه په ګټې اخستنې سره، له هماغه تصورنه تصویرجوړوي. د غه راز د تخیل او تخییل په باب همدا مطلب صدق کوي. لومړی د یوڅه په باب خیال او تخیل کیږي او بیا وروسته له لړکار څخه تخییل ورنه جوړیږي.

د تخیل او تخییل ډیرنازک سرحد داسې دی چې شاعر په تخیل باندې کارکوي او تخییل ورنه جوړوي. دغه راز که تخیل او تخییل له تغیر او تغییر سره پرتله کړو، نوتغیر په خپله بدلیدو او تغیرکولوته ویل کیږي، اوتغییر ارادتاً بدلولوته وایي. د دې استدلال له مخې تخییل ته د شاعر ارادي کاروېل کیږي او تصویرته هم باید د شاعرارادي کاروویل شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په همدې ډول که د تصوراو تخيل کلمې د تعلم له ويې سره او د تصويراو تخييل کلمات د تعليم له ويې سره وتلو، نو برابرې سره خيژي. څنګه چې تعلم زده کولوته وايي او تعليم ورزده کولوته ويل کيږي، نوتصوراو تخيل که په لومړي ګام کې زده کول وګڼو، نوپه مقابل کې تصوير او تخييل ورزده کول ګڼلای شو؛ ځکه نوويلای شوچې تصوراو تخيل د شاعر زده کول او تصويراو تخييل يې ورزده کول دي.

د دې خبرې يادول هم ضروري دي چې تصويراو تخييل سره څه نا څه يوه مانا لري او لکه څنګه چې يادونه وشوه د دواړو ارکان يودي او هغه تشبيه، مجاز، کنايه، استعاره، اسطوره، رمز او نور دي.

د شعري ارزښتونو په لوړولوکې تخييل ډير لوړنقش لري. په مخکينيو بحثونوکې وويل شول چې د تخييل کلمه د محاکات له ويی سره سمه او برابره ده او يا داچې د تخييل د کلمې مفهومي سيمه د محاکات او تشبيه له وينوڅخه ارته او مناسبه ده.

د تخييل د پيژند(تعريف) له څيرنې څخه دا پايله اخستل کيږي چې تخييل په اصل کې د ناورته مفهومونو د يووالي څرګندوی دی. تخييل د شعرد رامنځ ته کولو ياتخليقولو په بهيرکې د انسان ايجادي تفکرجوړوي او هرکله چې له طبيعت څخه، نوم وړي سره ورته او سره جلا مفاهيم او شيان سره انډول او سمون مومي، د انسان په ذهن کې د انځورونو په بڼه رامنځ ته کيږي او په پای کې د انسان په ذهني واقعيت باندې بدليږي او دغه واقعيت د انځورونو په بڼه د ژبې په واسطه د شعرپه نامه بيانيږي.

نودلته دی چې ويلای شو، په خپله شعرتخييل دی. ځکه که په شعرکې تخييل نه وي، شعرنه شو ورته ويلای. کوم لغات چې د شعر په نامه يودبل په څنګ کې ايښودل کيږي، بايد د انځورونو او تخييل درلودونکی وي، پرته له هغو يې د شعر په نامه نه شويادولای؛ نوهمدا يې ځای دی چې وويل شي:

شعريعنې تخييل او تخييل يعنې شعر.

دلته دا پايله ترلاسه کيږي چې د شعري ارزښتونو په لوړولوکې د تخييل نقش ډيرلوړاومهم دی.

څنګه چې ښکاره شوه په شعرکې د انځور او تخييل شته والی، شعرته ژوند وربښي او دشعريت سرحد ته يې رسوي، ځکه نو وايوچې د شعري ارزښتونو په لوړولو کې تخييل ټاکونکی رول لري.

د شعرد پيژند(تعريف) په تاريخ کې يوپيژند داسې راغلی دی چې: شعرد وييونو(لغاتو) د واده کولو او نږدې کيدلوپايله ده. نوله همدې امله چې وييونه (لغات) يوبل ته نږدې کيږي اوخپلې عاطفې اړيکې سره ټينګوي، نوتازه او نوي انځورونه زيږي او تخييل رامنځ ته کيږي، او همدا انځوراو رتخييل دی چې د شعوراړيکې له شي سره ټينګوي. ژان پل سارترويلي دي چې د انځور او تخييل وييونه کولای شی چې د شعوراړيکه له شي سره وټاکي. په بله و ينا انځور او تخييل په شعورکې ديوه شي د ظهورخاص ډول دی او د لغاتو **په نږدې کولواو نږدې کيدوکې د تخييل نقش ډير ارزښتناکه دی، که چيرې شاعر د وييونو د نږدې کولوپه وخت کې له انځور او تخييل څخه کار وانخلي،** نوبيا به يې شعرنه وي ويلای او دنظم دپيژند له مخې به يې لغات څنګ په څنګ سره ايښې وي، چې د شعريت کرۍ ته نه شي ورنږدې کيدلای. په شعر کې هرکله د انځور او تخييل پر شته والي باندې ټينګارشوی دی او دشعر د پيژند په تاريخ کې په سلوکې اته نوي پيژندونه داسې دي چې په شعرکې د انځوراو تخييل شته والی ډيراړين دی.

اوس اوس تول په دې پوهيږي چې په شعرکې د انځوراو تخييل شته والی ډيرضرور دی، دا هم ثابته شوې ده چې که په شعرکې ښکلا نه وي، نولوستونکي او اوريدونکي ته هيڅ کله د شعر منځپانګه ژر او ښه نه شي ليږدول کيدلای. او څنګه چې د شعر ښکلا همدغه انځورونه او تخييل دی، دهمدې دليل له مخې ټينګارکيږي چې په شعرکې د تخييل او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

انځورنقش ډيرلوړدی، ځکه چي شاعرله تخييل ښخه په ګټه اخيستني سره کولای شي د خپل شعرپيام نوروته په ښه شان ورسوي او د همدې تخييل په مرسته د ده شعر د نوروله پاره دمنلووړوګرځي.

پای

مآخذونه:

۱ــ ارسطو، کتاب الشعر، دمولوي محمداسرایل ژباړه، پيښور، ۱۹۵۸کال.

۲ــ ارسطووفن شعر، ترجمه عبدالحسن زرين کوب، تهران، چاپ سوم،۱۳۵۲.

۳ــ براهني رضا،کتاب زمان،تهران،۱۳۴۷.

۴ــ بينوا عبدالرووف، ادبي فنون، کابل، پښتوټولنه،۱۳۲۶.

۵ــ تنيوال حکيم، بديع اوبيان، دکابل عالي دارالمعلمين، کابل،۱۳۵۳کال.

۶ــ جلال الدين اومحمد رفيق، ادبي فنون، کابل پوهنتون،۱۳۶۳ کال.

۷ــ رستګاردکتورمنصور، تصويرآفريني درشهنامه، شيراز،۱۳۵۳ .

۸ــ قويم پوهاند قيوم، فنون ادبي بيان، انتشارات پوهنتون کابل،۱۳۶۱.

۹ــ کد کني شفيعي محمد رضا، صورخيال در شعرفارسي.

۱۰ــ نوري علاّ اسماعيل، صور و اسباب در شعر امروز ايران.۱۳۴۸.

۱۱ــ همايي جلالالدين، فنون بلاغت وصناعات ادبي، جلد دوم، تهران،۱۳۵۴.

۱۲ــ هيوادمل زلمی(اديتور)، دهجري ياد(دمقالومجموعه)، دافغانستان دعلوماکاديمي، کابل،۱۳۶۴کال.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ